د افغانستان اسلامي امارت

د کانونو او پټرولیم وزارت

د مقام دفتر لوی ریاست

د اړیکو او اسنادونو آمریت

گڼه: ۱۷۶۱

نېټه: ۱۴۴۷/۲/۲۹

بسم الله الرحمن الرحیم

**د ا.ا.ا د ریاست الوزراء ښاغلي اقتصادي معاونیت ته!**

**مقام دفتر لوی ریاست د پام وړ!**

السلام علیکم و رحمة الله و برکاته!

**موضوع: د کانونو له عوایدو څخه د عام المنفعه پروژو د تمویل په هکله د عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله تعالی منظور شوی لارښود.**

لکه څرنګه چې تاسو ته څرګنده ده، دعام المنفعه پروژو د سمون (تطبیق) په اړه دکانونو د ځاګړینې په هکله د امیرالمومنین حفظه الله تعالی د عالیقدر مقام له لوري د (۱۷۳۱/۱۵۷) ګڼې (۱۴۴۶/۴/۱۰) نېټې حکم پر بنسټ منظور شویده، پداسې حال کې چې د بین الوزارتي کمېټې د شپږمې مصوبې د اول بند چې د جسار مشعل دکان کیندني او سوداګریز شرکت له لوري دبلخ ولایت اړوند حیرتانو بندر ساحه کې له ډېرو سکرو څخه د ۱۰۰ میګاواټه حرارتي برېښنا تولیدولو په تړاو دی، دی وزارت ته راستول شوی دی.

دنوموړي لارښود د پنځمې مادې دریمه فقره داسې صراحت لري(هغه کانونه چې عواید یې د عام المنفعه کارونو د تمویل لپاره ځانګړې کیږي عقد یې د کانونو وزارت د اصولو سره سم د داوطلبۍ په بنسټ ورکړل شي).

بناً، د عالیقدر مشرتابه منظور شوی لارښود تاسو لوړ مقام ته دراستول شو، ترڅو یاد احکام د نوموړي طرز لارښود په رڼا کې سمون پیدا کړي.والسلام

**الحاج ملا هدایت الله بدري**

**د کانونو او پټرولیم وزارت وزیر**

۱۴۴۷/۳/۸

قید وارده:
۱۴۲۳
۱۴۴۷/۳/۳

**کاپي:**

(به کمیته تطبیق احکام مشرتابه ا.ا.ا (د کړنو/خبراوی په موخه)

پته: دمکرو روړان څلور لاري
ویبپاڼه: momp.gov.af
د اړیکې شمېره 202927126 - 93+